A برخه: د چرګ پالنې د پوهې یا علم پیژندګلو

دریم لوست: د فیل مرغانو خارجي اناتومي

**د زده کونکو د زده کړې موخې یا هدفونه:** زده کونکي به ددې لوست په پایله کې د لاندې موخو یا هدفونو سره اشنا شي، ددې لوست تشریحات به د لاندې موخو یا هدفونو د لاسته راوړنې سبب شي:

١ . د فیل مرغانو په برخه کې د عمومي معلوماتو روښانه کول
٢ . د فیل مرغانو د خارجي اناتومي تشخیص

**د لوست د تدریس لپاره وړاندیز شوی وخت:** ١ ساعت

**وړاندیز شوي منابع یا زیرمې:** لاندې منابع یا زیرمې کېدلی شي چې په دې لوست کې ګټوري واقع شي. د درسي پلان د غوره مخکې وړلو لپاره نوموړي پلان په پاورپواینټ کې هم تهیه شوې دی.انټرنیټ د باغونو د حشراتو د کنټرول په برخه کې کافي معلومات لري. په دې برخه کې لاندې ځنې منابع ذکر شوې دي.

- http://www.worldpoultry.net/
- http://www.poultrypages.com/

**د سامانونو، وسایلو، لوازمو او اساسنتیاوو فهرست یا لیک لړ**

- د لیکلو لپاره سپینه یا تشه ورقه یا صفحه
- د پاورپواینټ لپاره پراجکتور(غټ ښودونکی)
- د پاورپوآینټ سلایدونه یا صفحې
- روښانه سلایدونه
- د زده کونکو د کار ورقو کاپي ګانې
- په ژوندی بڼه الوتونکي – فیل مرغان

**اصطلاح ګاني :**لاندې اصطلاح ګاني په دې لوست کې وړاندې کیږي.( نوموړي اصطلاح ګاني د پاورپواینټ پروګرام په ٢ شمیره سلاید کې ښودل شوي دي):

- ملا یا شا — **Back**
- مښوکه — **Beak**
- ږیره — **Bread**
- سینه — **Breas**
- نازکه غوښه- — **Caruncle**
- غوږ — **Ear**
- سترګه — **Eye**
- پښه — **Foot**

- سيني هډوکی- Keel
- پښه(پېښ( له ورانه تر پنجې څوکې پوري Leg
- غاړه- Neck
- د پوزې سوري Nostril
- د زنګانه د بند وصلونکې برخه Hock joint
- - اوږه Shoulder
- سر بند-( د سرچاپیره بند ) Snood
- پنډۍ - Shank
- تیره میخ ډوله راوتنه- Spur
- د لکۍ پوښونکی- Tail coverts
- لکۍ Tail
- ستونی Throat
- پښې پنجه Toe
- د ږیږي یا ستوني لاندې غوښه Wattle

**په زړه پوري تګلاره:**له یوې په زړه پورې تګلارې څخه ګټه پورته تکړئ ترڅو چي زده کونکي د لوست د زده کړي لپاره اماده کړي. ښوونکی اکثره د خپلو ځانګړو تولګیو لپاره د زده کونکو د شرایطو سره سم تګلاري تهیه او برابروي یا ترتیبوي. لاندې تګلاره کیدلی شي چي د یوې ممکنه تګلاري په ډول سره ورڅخه یادونه وکړل شي: له زده کونکو څخه پوښتنه وکړئ چي هغوي د فیل مرغانو په برخه کي څومره پوهیږي. دا واقیعتونه په تخته باندې نوشته کړئ له دي معلوماتو څخه د لومړی موخې د وینا په برخه کي استفاده وکړئ.

**د محتویاتو یا منځ پانګو لنډیز او درسي ستراتیژي ګاني**

**لومړۍ موخه یا هدف:** د فیل مرغانو په برخه کي د عمومي معلوماتو روښانه کول

١. فیل مرغان غټ الوتونکي دي چي د Pheasant له نوعي پوري تړل کیږي.

A. دوي له میلونونو کلونو څخه را په دیخوا د ژوندانه سابقه لري.

١ . د وحشي فیل مرغانو اصلي وطن د شمالي امریکا جنوبي سیمي دي.

٢ . فیل مرغان یوازني الوتونکي دي چي د هغوي اصلي وطن یا ټاټوبی جنوبي همشایر دی.

٣ . د لومړی ځل لپاره دوي په مکسیکو کي کورني کړل شوي دي او په شپاړسمه پیړۍ کي اروپا ته وړل شوي دي.

د پاورپواینټ څلورمه شمیره سلاید د وحشي فیل مرغانو تصویرونه ښکاره کوي د هغوي د ستوني لاندې غوښه یا اوږده ږیره چي له سیني څخه ځوړنده ده وګورئ.

**(د پاورپواینټ ٣ شمیره سلاید**

B . فيل مرغان له هر ځای سره توافق کوي او ژوند مخکې وړلی شي.
۱ . په داسې حال کې چې اکثره وحشي فيل مرغان د سختو لرګيو په ځنګلونو کې کوم چې علفئي سيمې ولري پيدا کيدلی شي.
۲ . وحشي فيل مرغان لنډو سيمو ته د ۸۸ کيلو متر په يوه ساعت کې پرواز کولی شي .
۳ . په هموارو ځمکو کې د ٤٠ کيلومتر په يوه ساعت کې سرعت وهلی شي.
٤ . کورني شوي فيل مرغان يا اهلي شوي فيل مرغان ډير وزن اخلي نو په دې بنا د الوتلو کمه وړتيا لري .
٥ .د دوي وزن د وحشي فيل مرغانو دوه چنده دي. د پاورپواينټ ٦ شميره سلايد د وحشي فيل مرغ يو عکس را په ګوته کوي چې له ونې څخه د چګس ته الوتنه کوي.
**(د پاورپواينټ ٥ شميره سلايد)**

Car uncle . C (په سر او غاړه باندې راټوکيدلی غوښه) د سر د پاسه او د غاړې په پورتنۍ برخه باندې يوه روښانه نمو ده.
۱ . Snood (د سرچاپيره بند) د پوستکی له ځوړنديدنې نه عبارت دی چې د فيل په مښوکه باندې ځوړنده وي.
۲ . Wattle ( ږېره) له ځوړند پوستکی نه عبارت دی چې د فيل مرغ تر ستونې لاندې ځای لري.
۳ . هغه لوڅ پوستکی چې په سر او غاړه باندې ځای لري د خوشحالۍ او ځورونې په مهال خپل رنګ له خاورين نه سور(کم رنګه سور) سپين او ابي کولی شي. د پاورپواينټ ۸ شميره سلايد خارجي عمده برخي کومې چې د فيل مرغ په سر موقيعت لري ښکاره کوي د پاورپواينټ ۱۲،۱۱،۱۰،۹ شميري سلايدونه د سربند ډير په زړه پوري خاصيتونه ښکاره کوي.
**(د پاورپواينټ ۱۳ شميره سلايد)**

D . فيل مرغان ښه قبلونکي دي ولي بيروني غوښه نه لري.
۱ . دوي په تقريبي توګه ۲۷۰ درجې د ليدنې سيمه لري او کولی شي چې د هغې رنګونه وګوري.
۲ . دوي کولی شي چې په سل ګونو يارده وړاندې فاصلو ته حرکت وکړي او هغه وګوري.
۳ . د شپې له مخې يي د کتنې توان ښه نه دی.
٤ . د فيل مرغانو د بوی کول حس ضعيفه دی ليکن د هغې د خوند معلومولو حس ښه دی.
**(د پاورپواينټ ١٤ شميره سلايد)**

E . نارينه فيل مرغ ښايي چې آواز( خپل ځآنته ورته فيل مرغان مخکې له دې چې لمر راو خيژي شروع کړي او په ډيری سحر وختونو کې ورته دوام ورکړي.
۱ . فيل مرغه د چرګانو په شان اواز لري.

F . فيل مرغان ټولنيز حيوانات يا ځاروی دي.
۱ . دوي يو له بل او همدرانګه د نورو مخلوقاتو سره په شمول د انسان د هغوي له ټولنې نه خوند اخلي.
۲ . دوي د خپلو بڼو وهل خوښ ګڼي.
**(د پاورپواينټ ۱۵ شميره سلايد)**

G . په اوړي کي نارينه فيل مرغان خپل بدن غټوي. د خپلي لکۍ بڼې خوروي،خپل اواز لوړوي، ترڅو چي هرڅومره چي امکان ولري ښځينه الوتونکي راجلبوي.
۱ . له جنسي يوځايوالی څخه وروسته ښځينه فيل مرغان د بوټو لاندې د هګۍ اېښودلو يو ځای اماده کوي او په هغه ځای کي خپل هګۍ اچوي.
۲ . ښځينه الوتونکی هره ورځ يوه هګۍ اچوي ترڅو چي د ۸-۱۶ پوري يوه غوشمه بشپړه يا تکميل کړي.
۳ . د فيل مرغانو له هګيو څخه د ۲۸ ورځو په موده کي بچي راوتل صورت نيسي.
٤ . له بچي ورکولو څخه وروسته نوموړی بچي په ټول کال کي د هغې له مور سره وي.
٥ . په لومړۍ اونۍ کي بچي د الوتلو توان نه لري او مور يي له هغوي سره په ځمکه باندې کښيني. د پاورپواينټ ۱٦ شميره سلايد يو نارينه فيل مرغ د خپل نورمال بدن سره چي دلکۍ کولو حالت لري په ګوته کوي.
**(د پاورپواينټ ۱۷ شميره سلايد)**

H . نن ورځ د فيل مرغانو په جنتيک کي زيات پرمختګ صورت نيولی دی.
۱ . چي دا د فيل مرغانو پواسطه د کمې غذا په خوړلو سره د لوي جسامت اخستلو سبب په کم وخت کي کيږي.
۲ . له ۱۹۸۰ کلونو څخه را په دي خوا فيل مرغان د پراخې او سپينې سينې له عامو تجارتي نسلونو څخه دي چي پالنه يي ترسره کيږي.
۳ . همدارنګه هغه فيل مرغان چي پراخه او سپينه سينه لري د هغوي مختلفي نوعي په شمالي امريکا کي تر پالنې لاندې نيول شوي دي.
٤ . اکثره هغه فيل مرغان چي په سينه او ورانه برخه کي د زياتي غوښي لرونکي دي تر نسلګيری لاندې نيول کيږي.
٥ . هغه فيل مرغانو ته چي سپيني بڼې ولري غوره والی ورکول کيږي دا ځکه چي دوي د بڼو د لري کولو په وخت کي کوم ناخوښه رنګ نه لري.
**(د پاورپواينټ ۱۸ شميره سلايد)**

I . فيل مرغان د څلورو نه تر پنځه مياشتو عمر پوري خپله نمو بشپړوي.
۱ . هغه الوتونکي چي د هغوي عمر له دري مياشتو څخه لږ وي د ځوانو بچيو په نامه سره ياديږي .

٢ .د فیل مرغانو ښځینه جنس په شپاړلسمه اونۍ کي بلوغ ته رسیږي. چي په دي وخت کي د هغې منځنۍ وزن له ٣-٦ نه تر ٣-٧ کیلو ګرامو پوري رسیږي.
٣ . نارینه فیل مرغ د ١٩ میاشتنۍ په عمر کي د ٦،٣ نه تر ١٥،٩ کیلوګرام وزن ته رسیږي.
٤ . نارینه غټ فیل مرغان تر د ١٨ میاشتنۍ عمر پوري ١٨ کیلو ګرامه وزن ته رسیږي.
A . دا فیل مرغان لږ څه وروسته بلوغ ته رسیږي.
B د نسلګیرۍ یو نارینه فیل مرغ د ١٥٠٠ په شمیر بچي په شپږو میاشتو کي له ښځینه هګۍ ورکونکی فیل مرغی سره تولیدوي. د پاورپواینټ ١٩ شمیره سلاید یو کورنی فیل مرغ را په ګوته کوي.
**(د پاورپواینټ ٢٠ شمیره سلاید)**

٥ . د پښي د پنډۍ برخه او د ورانه د پیخ برخه د فلسونو لرونکي وي او اکثره فیل مرغان د دریو نه تر څلورو پنجولرونکي وي کوم چي د نوکانو لرونکي هم وي چي د توږلو لپاره په کار وړل کیږي.
**(د پاورپواینټ ٢١ شمیره سلاید)**

J . فیل مرغان د بڼو پواسطه پوښل شوي دي ولي یو کم شمیر ویښتان یي هم په بدن باندې خپاره شوي دي.
١ . په منځني ډول سره مصرفونکي دا ویښتان نه ګوري دا ځکه چي نوموړي ویښتانه د پروسس په وخت کي لري کیږي.
K . فیل مرغان د مښوکې لرونکي دي او غاښونه، نه لري.
١ . په سنګدان کي هر نوعه ژول صورت نیسي.
٢ . اکثره تولیدونکی فیل مرغانو ته په غذا کي کوچنۍ ټوټې د تیګو نه ورکوي دا ځکه چي دوي ورته د دانه بابو میده شوي غذا ورکوي چي دا نوعه خوراکه د هاضمې سیستم په شیره کي هضمیدلی نه شي.
**(د پاورپواینټ ٢٢ شمیره سلاید)**

L . فیل مرغان په خپله سینه کي د سپیني غوښې، او په وزرونو، ورنونو، ملا او غاړه کي د تیاره رنګ لرونکی سپیني غوښي لرونکي دي.
١ . د دوي وزرونه د روښانه او تیاره فایبرونو لرونکي وي.
**له زده کونکو څخه پوښتنه وکړئ چي ایا هغوي داسې کوم کس لیدلی دی چي فیل مرغان یي ساتلي وي. له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ هغه معلومات چي دوي یي د فیل مرغانو په برخه کي لري یو له بل سره شریک کړي او هم ورڅخه پوښتنه وکړئ چي ولي باید خلک دا نوعه الوتونکي تر پالنې لاندې ونیسي.**

دوهمه موخه یا هدف : د فیل مرغانو د خارجي اناتومي تشخیص
**(د پاورپواینټ ٢٣ شمیره سلاید)**

ii. د فیل مرغانو اناتومي دواړه خارجي او داخلي برخي په بر کي نیسي. دواړه کیدلی شي چي د هغوي د نمو او مثل تولید په لارو کي او همدارنګه د هغوي د منجمنټ په ضرورت باندې تاثیر ولري.

A . لاندې خارجي اعضاوي د فیل مرغانو له تشریح کولو سره مرسته او کومک کوي.

۱ . **Back ( ملا )** ملا د الوتونکو له بیروني برخې نه دی چي د وزرونو د ښکتنۍ برخه کي له غاړې نه تر لکۍ پوري وي او د انسان ملا ته ورته وي.

۲ . **Beak ( مښوکه )** د الوتونکو د خولې راوتلی باندنی سخته برخه ده چي پورتنۍ او ښکتنۍ مښوکی نه تشکیل شوی ده.

**(د پاورپواینټ ۲٤ شمیره سلاید)**

۳ . **Beard( ږیره)** نارینه فیل مرغان د خپلې زنې لاندې د ویښته ډوله ښکو یوه اوږده شین رنګه غوشمه لري چي د ږیري (Beard) په نامه سره یادیږ.

٤ . **Breast ( سینه )** د الوتونکي د مخامخ پورتنۍ برخې نه عبارت ده چي د سینې لاندې د الوتلو عمده عضلات ځای لري چي هغوي له وزرونو سره وصل دي چي له هغې سره د وزن د پورته کولو په وړاندې مرسته کوي. دا عضلات له لوی بدن سره وصل دي چي دا د الوتونکو یوازنی اسکلیټي برخه ده.

٥ . **Caruncle ( نازکه غوښه )** غوښې ته ورته سخته نمو چي د دواړو ښځینه او نارینه فیل مرغانو په سر باندې شتون لري.

**(د پاورپواینټ ۲٥ شمیره سلاید)**

٦ . **Ear ( غوږ )** د اواز د احساس تعادل او حفظ ساتلو لپاره مسولیت په غاړه لري.

۷ . Eye ( سترګه ) : د روښنایي د لیدلو او احساس کولو له غړی یا عضوی نه عبارت ده.

۸ . **foot ( پښه )** : د legs (د ورانه پیخونه) د دخولي برخو په منځ کي واقع ده لکه د انسانانو او اکثره الوتونکو په توګه د پنجې څلور نوکي لري.

۹ .**keel ( د سینې هډوکی ) :** د سینې د هډوکې په نوم سره هم یادیږي دا دومره لوي وي چي اکثره د بدن بطني دیوال تشکیلوي.

۱۰ . **leg (د ورانه پیخونه )** : له هغو اندامونو(لاسونه یا پښي) نه عبارت دي چي د چرګ سره مرسته کوي او د انسان د ورانه له پیخونو سره ورته دي. پښي یا د ورانه پیخونه خپل تناسب ته دومره زیاتي قوي دي چي د هغې پواسطه کولی شي له ځمکي نه پورته او یا هم کښیني پرته له دي چي زخمي شي.

**(د پاورپواینټ ۲٦ شمیره سلاید)**

۱۱ . **Neck (غاړه )** :د الوتونکی له سر د هغې له بدن سره وصلوي. د انسان له غاړی سره ورته ده د مختلفو الوتونکي د غاړي اوږدوالی مختلف وي. غاړه

الوتونکی ته اجازه ورکوي پرته له دي چي خپل بدن ته حرکت ورکړي خپله د لیدني سیمه زیاتوي.

۱۲ . **Nostril( بیرونی مجراګاني) :**خروجي یا بیروني مجراګاني چي د مښوکي په پورته برخه کي ځای لري دوه دندي لري چي یوه یي د تنفس په وخت کي د هوا ګرمول او بله یي د تنفس په وخت کي د رطوبت ویستل دي.

۱۳ . **Hock joint ( د ورانه او زنګون وصلونکي برخه):** په کورنیو الوتونکو کي د زنګانه او پښو د ورنونو له وصلونکي برخي نه عبارت ده.

۱٤ . **Shoulder (اوږه)** : له لنډو بڼکو نه عبارت دي چي د وزرونو په پورتنۍ برخه کي دوهمي منځنیو پوښښونو ته ځای ورکوي. دوي ملا ته نژدې موقیعت لري او د الوتونکي د وزر د پورتنیو بڼو د لومړی قطار په توګه لیدل کیږي چي د Marginal coverts او Lesser secondary coverts په نومونو سره هم یادیږي.

**(د پاورپواینټ ۲۷ شمیره سلاید)**

۱۵ . **Snood (غوښینه راوتنه) :**د فیل مرغانو په نارینه او ښځینه دواړو جنسونو کي لیدل کیږي دوي د غوښي ډوله راوتني نه عبارت دي چي د هغوي په مښوکو باندي ځوړند وي او کولی شي چي اوږدي یا لنډي شي چي مذکر بالغ نارینه چرګ نسبت ښځینه ته ډیر لوی وي هیڅ څوک نه شی کولی چي دوي د څه لپاره دي ولي ښایي چي دواړه د جنسي یوځای والی د جلب کولو لپاره یي انکشاف کړي وي.

۱٦ . **Shank ( د پښو پنډۍ ) :** د چرګانو د پښو له یوي برخي نه عبارت ده چي د پښي د لومړی بند او پنجې ترمنځ ځای لري.

۱۷ . Spur (ښاخ ته ورته نمو) :له یوه ښاخ ته ورته نمو نه عبارت ده چي د یوه فیل مرغ په پښه کي وي.

۱۸ . **Tail coverts (د لکۍ پوښښ کونکي ):** د لکۍ له لنډو بڼو نه عبارت دي چي د لکۍ د اوږدو بڼو ښکتنۍ برخه یي پوښلی وي.

**(د پاورپواینټ ۲۸ شمیره سلاید)**

۱۹ . **Tail (لکۍ) :** له اوږدو بڼکو نه تشکیل شوی ده چي د الوتونکی له شا نه یي امتداد پیدا کړي دي او د موازنې د ساتلو او هم د جنسي ظرفیت د جلب په توګه استعمالیږي. یو شمیر نوعي د لکي د ډیرو زیاتو منظمو بڼکو لرونکي دي لکه طاوس، چي دا یوه بله وظیفه سرته رسوي سره له دي چي ښځینه چرګ ته د جنسي میلان د ښکاره کولو په وخت کي یو مثبت پیغام انتقالوي.

۲۰.**Throat (ستونی) :**د انسان له ستونی سره ورته دی او د غاړي په مقابل کي ځای لري، چي اکثره په نامه د jugulum ، Foreneck او Throat patch سره یادیږي. او د دي په داخل کي د غذا لپاره یوه لاره هم ده چي له مښوکي نه تر معدې او همدارنګه د هوا لاره د سږو په لوري شتون لري.

۲۱ . **Toe (د پښي د پنجې څوکه ) :** د انسان د پنجې په توګه له پښو سره وصل دي اکثره الوتونکي د پنجې څلور نوکي لري. لومړۍ پنجه د شا په لوري نوک

لرونكي ده په داسې حال کي چي بله يي د مخکې په لوري نوک لرونکی ده. دوهمه، دريمه او څلورمه پنجه د پښي د داخل لوري څخه د بيرون په لوري حسابيږي او په ترتيب سره د ۲، ۳ او ٤ د ګوتو هډوکو لرونکي وي. اکثره الوتونکي پنځمه پنجه نه لري په استثنا د ځينو چي دا د دفاعي آلې په توګه يي پراخوالی موندلی دي؛ لکه څرنګه چي په فيل مرغانو کي دي.
**(د پاورپواينټ ۲۹ شميره سلايد)**

۲۲ . **Wattle ( د ستونی لاندې غوښين کاکل) :** سره يا هم بنفش ته ورته غوښيني راوتنې نه عبارت ده چي د فيل مرغ د ستونې لاندې ځوړند وي. د پاورپواينټ ۳۰ شميره سلايد د فيل مرغ خارج اعضاوي يا غړي را په ګوته کوي.
د امکان په صورت کي له يوه ژوندي فيل مرغ نه هم استفاده کيدلی شي. د TM :
۱-۳ د ورقو کاپي ګاني زده کونکو ته توضيح کيدلی شي يا هم کيدلی شي چي WS :۱-۳ د زده کونکو پواسطه تکميل يا بشپړ کړل شي. د پاورپواينټ ۳۱ شميره سلايد او ۳۲ شميره سلايد کيدلی شي چي د ښوونکي پواسطه تکرار کړل شي، چي هري خاصې عضوي ته اشاره وکړي او له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ چي خپل لاسونه پورته کړي که چيري يي د بدن اعضاوي تشخيص کړي وي.

**بيا کتنه\خلاصه يا لنډيز:** د زده کړو موخو څخه په استفادې سره لوست خلاصه يا لنډيز کړئ. له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ ترڅو چي د هري موخې پوري تړلي منځ پانګي تشريح کړي. د هغوي له ځوابونو څخه د يوه بنسټ په توګه د هغو موخو د تعين او تاکنې لپاره کومي چي د بياکتنې لپاره مختلفو تګلارو ته اړتيا لري، تر استفادې لاندې ونيسئ. له هغو سوالونو څخه چي د پاورپواينټ په ۳۳ شميره سلايد کي شتون لري هم په دي برخه کي استفاده کولی شی.

تولګی ته يوه جوړه فيل مرغان راوړئ يا زده کونکي له ټولګی نه بيرون يوسئ ترڅو نارينه او ښځينه فيل مرغ مشاهده کړي او د فيل مرغانو د مختلفو خاصيتونو په برخه کي بحث وکړي او خارج عضوي تکرار کړي.

عملی کار:عملي کار کيدلی شي چي د ژونديوفيل مرغانو د خارجي غړو د تشخيص په برخه کي د زده کونکو په فعاليتونو او يا هم د WS 3-1 په تکميلولو سره سرته ورسيږي.
**ارزيابی:** ارزيابی بايد د زده کونکو په لاسته راوړنو باندي متمرکزه وي کومه چي له درسي موخو څخه وي. په دي برخه کي مختلف تخينکونه د استعمال وړ دي، د بيلګي په توګه په غوښتنيزو فعاليتونو باندي د زده کونکو اجرا کوني. په ليکلي بڼه امتحان يا ازموينه ددي درسي مواد شامله دي.

WS 3-1 د ارزيابی په توګه استعمال کړئ یا له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ چي د فيل مرغ خارجي اناتومي تشخيص کړي.

**نمونه يي امتحان ته ځوابونه:**

مقايسه يا پرتله کول

| | |
|---|---|
| ١ | G |
| ٢ | B |
| ٣ | A |
| ٤ | D |
| ٥ | C |
| ٦ | H |
| ٧ | I |

**دوهمه برخه:تکميل يا بشپړول**

- **ملا يا شا** **Back**
- **مښوکه** **Beak**
- **ږيره** **Bread**
- **سينه** **Breas**
- **نازکه غوښه-** **Caruncle**
- **غوږ** **Ear**
- **سترګه** **Eye**
- **پښه** **Foot**
- **سينې هډوکی-** **Keel**
- **پښه(بېخ( له ورانه تر پنجې څوکې پوري** **Leg**
- **غاړه-** **Neck**
- **د پوزې سوري** **Nostril**
- **د زنګانه د بند وصلونکې برخه** **Hock joint**
- **- اوږه** **Shoulder**
- **سر بند-( د سرچاپيره بند )** **Snood**

- پنډۍ - **Shank**
- تیره میخ ډوله راوتنه- **Spur**
- د لکۍ پوښونکی- **Tail coverts**
- لکۍ **Tail**
- ستونی **Throat**
- پښې پنجه **Toe**
- د ږېرې یا ستونې لاندې غوښه **Wattle**

نمونه یې امتحان یا ازموینه

نوم..........................

A-3 لوست: د فیل مرغانو خارجي اناتومي

لومړۍ برخه:مقایسه یا پرتله کول

لارښوونه: یوازې صحیح لغت جملو ته نژدې نوشته کړئ.

A . Breast سینه

B . Snood سربند

C . Bread ږېره

D . Toe پښې پنجه

E . Hen چرګه

F . Tail لکۍ

G . Caruncle نازکه غوښه

H . Wattle د ستونې لاندې غوښين کاکل

I . Spur ښاخ ته ورته تیره نوکه

١ ...........د یوه فیل مرغ د غاړې د پورتنۍ برخې او سر د پورتنۍ برخې روښانه نمو

٢ ........... له اضافي غوښې نه عبارت دی چې د فیل مرغ په مښوکه کې ځوړند وي.

٣ ........... هغه نسل دی چې په دې سیمه کې زیاته غوښه لري .

٤ ........... هغه نوم دی چې نارینه فیل مرغ ته ورکول شوی دی.

٥ ...........ویښتو ته ورته د بڼکو له خوشې نه عبارت ده چې د فیل د سنې په مرکز کې وي.

٦ ........... له هغې غوښې نه عبارت ده چې د فیل د ستونې لاندې وي.

٧ ........... له ښاخ ته ورته نمو نه عبارت ده چې د فیل مرغانو په پښو کې موقیعت لري.

٨ ........... له اوږدو بڼکو نه عبارت دي چې د جنسي یوځای وال د جذب معاونیت کوي.

۹ ............ هغه نوم دی چي ښځینه فیل مرغ ته ورکول شوی دی.

دوهمه برخه: تش یا خالیګاه ډکه کړئ.

هدایات(لاربښووني) : لغاتونه برابر کړئ او هغه نوشته کړئ په داسې توګه چي په صحیح صورت سره د فیل مرغ خارجي غړي تشخیص کړي.



10.________________________

11.________________________

12.________________________

13.________________________

14.________________________

15.________________________

16.________________________

17.________________________

18.________________________

19.________________________

20.________________________

TM:3-1

د يوه فيل خارج غړي يا اعضاوي



WS:3-1

د يوه فيل مرغ خارجي غړي

